مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۰۶/۲۸

# سپوږمۍ‌رنګې ته سرود



پښتانه او بلوخ واړه
د خوني ښامار په غاړه

تور ماښام کې برابر شول
د دوی سر، د لیوه داړه

د بلوڅو ملالی ده
د سپوږمی په رنګ ولاړه

دا ماهرنګه به اخر کړي
د تیارو خونه ویجاړه

ستا خامک ټیکری رپیږي
تــُرابان وهي رمباړه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

یو علي و بل یې ولس و
تر سپینوامه چیغه لاړه

هرې مور ته په دعا کې
زوی منظور له خدایه غواړه

ربه لور ماهرنګه راکړې
د هر پلار هیله ده واړه

نور د اوښکو څواب نهشته
خدای ته وګوره! مهژاړه!

زموږ له وینو به زرغون شي
سره ګلونه په دې شاړه

زه یې وینم راروان دي
ازادي او وینتیا دواړه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ